بسم الله الرحمن الرحيم

## صحيحه ایډیولوژي داسې اتلان روزي چې پر مټ یې لوی دولت جوړ شي

## (ژباړه)

درې کاله وړاندې ما د یو جنبش له یو فعال رهبر او ځوان سره خبرې وکړې او هغه ته مې وویل چې د «چوپتیا بس دی» شعار خپربدل محتوا نه لري او له یوې نهضتي پروژې سره مطابقت نه لري. هغه ځواب راکړ: «نه، موږ مفصله برنامه لرو او د لومړي ځل لپاره به وزیران باکفایته انسانان وي چې د ځمکو قیادت وړتیا لري. هېواد ته به پرمختګ ورکړي او په دغو استازو، فعالانو او د رسنیو په استازو کې باکفایته بلل کېدل. پر همدغه اساس، وینئ چې شرایط ولې په دومره لنډ وخت کې ناوړه شول، ژوند له ګواښ سره مخ شو، د توکو بیې لوړې شوې، اساسي خدمتونه نشته، د اوبو او برېښنا پرېکون دوام لري او په درملتونونو کې دارو او درمل نشته. دا چې دولت په ځلونه د خپل ملاتړ ادعاوې کړې، خو پر دې سربېره ناامنی، وژنې او جنایتونه دوام لري، څو په خلکو کې وحشت او ډار خپور کړي.

پر خلکو د ژوند کولو ساحه تنګول په داسې نظام کې چې اوس پر څوکۍ ناست دی، د دکتورا درجې په درلودو سره یو باکفایته کس هغه رهبري کوي، چې ډېر عمر یې د ملګرو ملتونو د دهلېزونو په تګ راتګ کې تېر کړی او همدارنګه نور وزیران یې بهرنۍ پېژندپاڼې لري. دغو کسانو په غرب کې زده کړې کړې او په غربي سفارتونو کې د کار ښه تجربه لري. نو د یو پوه سړي لپاره اساسي معیارونو کوم دي؟ ایا د ملګرو ملتونو په سازمانونو کې د یو شخص له لاسته راوړنو  سره ضروري اړیکه لري؟ په دغه درک سره چې دولت خپل پوستې بشپړ بدل کړی او نور واکونه یې پکې ځای پر ځای کړي دي. خو حالت همدغه دی چې تر اوسه یې نه دی بدل شوی او ستاسو د خبرتیا لپاره باید وویل شي: دا موضوع یوازې د سوډان په انقلاب کې نه ده، بلکې ټول ځایونه او د عربي پسرلي ټول انقلابونه له دغه برخلیک سره مخ شوي دي. خلکو ته ښودل شوې چې حل لاره د ملګرو ملتونو د سازمانونو په واکونو کې ده.

هغه کسان چې د بنسټیز بدلون په هڅه کې دي، باید پوه شي چې څرنګه د دولت اتلان جوړېږي او روزل کېږي او د هغې ایډیولوژۍ پیري باید وکړي چې د امت د پرمختګ لپاره ده. د متخصصانو او دولت جوړونکو تر منځ ښکاره توپیر شته. نو هر څوک چې د دولت جوړونې وړ و، که لوړ اسناد هم ونه لري، هغه به ټاکل کېږي. شرط دا دی چې ښه چمتو شي او تر ټولو مهمه موضوع د هغې برنامې شتون دی چې په هغه کې یو دولت جوړونکی روزل کېږي او جوړېږي او دغه برنامه د عقیدې له جنس څخه ده، چې دولت جوړونکی پر هغه باور او عقیده لري؛ څو د هغې ایډیولوژۍ تر منځ اړیکه پرې نه شي چې پلي کېدل یې غواړي. موږ وینو چې په تاریخ کې تر ټولو

لوی دولت ۱۳ پېړۍ دوام درلود. پر همدغه اساس، څنګه د هغه دولت ستنې تاسیس شوې او هغه کسان چې د یاد دولت چارې یې سمبالولې، غوره ځانګړتیاوې یې درلودې. ځکه کوم څه چې هغوی جوړ کړل او له نورو یې غوره کړل، د الله سبحانه وتعالی کتاب او د رسول الله صلی الله علیه وسلم سنت وو. هغوی یې د اسلام د احکامو اړوند د پسونو څرونکو څخه د خلکو د چارو تنظیموونکي، رهبران او رعایت کوونکي وګرځول.

همدارنګه اسلام متحرک و او د خلکو ژوند ته یې نه یوازې په بنسټیز ډول بدلون ورکاوه، بلکې د ټولې نړۍ ژوند یې بدل کړ او په ټولو ځایونو کې نصرت او بریا د مسلمانانو په برخه وه. مسلمانان ځکه بریالي کېدل چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د مدرسې زده کوونکي وو؛ هغه کسان چې اسلامي یې د ارقم بن ابي ارقم په کور کې په حلقو کې زده کړ، چې د زده کړې ورکولو ځای و. دا کتله او هسته د دولت د بنسټ لپاره وه او هغه ټول کسان چې پر اسلام معتقد وو، په دې حلقه کې به راټولېدل چې د اسلام په ثقافت سره تثقیف شي او خپل ځان د سیاسي مبارزې لپاره چمتو کړي. دا هغه کسان دي چې د دولت له تاسیس وروسته د هغه چارې مدیریت کوي.

دا د بنسټیز بدلون او انقلاب لپاره شرعي طریقه ده، هغه طریقه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم پلي کړې ده. دا هغه کسان وو چې اسلام یې له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه زده کړی دی. د اسلامي دولت په وروستیو کې اتل محمد فاتح چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم زیری یې ربښتیا کړ، څنګه یې وکولی شول چې دغه کار ترسره کړي، په داسې حال چې د ارقم په کور کې یې په حلقو کې ګډون نه و کړی او د نورو غوندې نه و روزل شوی؟ پلار یې تر ټولو غوره ښوونکی شمس الدین ورته راوست او هغه یې دې موخې ته د تر لاسه کېدو لپاره چمتو کړ. پر همدغه اساس، نوموړی د صلاالدین غوندې او د هغه په څېر نور کسان چې تر ده وړاندې تېر شوي وو، غوره امیر کړ. د هغوی تر منځ پیوستون اسلام دی او دا هغه فکري رهبري ده چې هر کس باید هغه زده کړي او پرې ورزول شي.

هر څوک چې نن ورځ نهضت غواړي، باید د لومړینو اتلانو او فاتحینو ژوند لیک ته سر ورښکاره کړي او هغه وګوري. الله سبحانه وتعالی مسلمانانو ته امر کړی چې د لار ورکې په وخت کې د الله سبحانه وتعالی دغه ایت شریف ته پنا یوسي. الله سبحانه وتعالی فرمایلي دي:

﴿ **وَلْتَكُن مِّنكُمْ أُمَّةٌ يَدْعُونَ إِلَى الْخَيْرِ وَيَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنكَرِ وَأُوْلَئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ**﴾ [آیه 104 سورۀ آل عمران]

***ژباړه:*** *باید له تاسو یوه ډله وي چې لازمه روزنه ورکړل شي، قران کریم، سنت، د شریعت احکام زده کړي، خلک نېکۍ ته دعوت کړي، په معروف امر وکړي او له منکر نهې وکړي او هغه کسان راستګاران او ربښتینې کسان دي.*

دا د نن ورځې د امت د زخمونو پټۍ او مرهم دی او هغه د داسې ډلې رامنځته کېدل دي چې په اسلام تثقیف شي او له امت سره تفاعل وکړي. وروسته له یوې ژمنې او قدرت لرونکې ډلې د نصرت غوښتنه وکړي، څو د هغوی دولت او نظام رامنځته شي. نن ورځ له حزب التحریر پرته بله هېڅ داسې ډله نشته چې دا مسیر بشپړ کړي او مسولیت یې ادا کړي. اسلام د خپل کار بنسټ کړي، د دولت لپاره اساسي قانون تدوین کړي، چې ۱۹۱ مادې لري. له قران او سنتو، د اصحابو له اجماع او قیاس څخه په صحیح اجتهاد استخراج شوی دی. ټول عالمان، حقوق پوهان او عام خلک د هغه مطالعې ته رابولي او په راتلونکي کې د نبوت پر تګلاره د راشده خلافت دولت له لوري د هغه د پلي کېدو غوښتنه کوي. دا د الله سبحانه وتعالی ژمنه ده چې هېڅ کله درواغ نه کېږي. الله سبحانه وتعالی فرمایلي دي:

**﴿وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُم فِي الْأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ الَّذِي ارْتَضَى لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُم مِّن بَعْدِ خَوْفِهِمْ أَمْناً يَعْبُدُونَنِي لَا يُشْرِكُونَ بِي شَيْئاً وَمَن كَفَرَ بَعْدَ ذَلِكَ فَأُوْلَئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ﴾** [آیهٔ 55 سورهٔ نور]

***ژباړه:*** *الله سبحانه وتعالی له تاسو څخه هغو کسانو ته چې ایمان یې راوړی او غوره کارونه یې ترسره کړي دي، ژمنه ورکړې چې هغوی به په ځمکه کې د پخوانیو ځای ناستې کړي، څو هغوی ته د ظالمانو له ظلم څخه تر خلاصون وروسته عدل ور په برخه کړي. په همغه بڼه چې پخوانیو ته یې خلافت ورکړی و. هغه دین چې د هغوی لپاره یې خوښ کړی، پر ځای به پاتې شي او ریښې به یې وغځېږي. د هغوی ډار به په امن او امنیت بدلوي، په داسې بڼه چې یوازې به د الله سبحانه وتعالی عبادت کوي او له هغه سبحانه وتعالی سره به څوک نه شریکوي. هغه کسان چې تر هغه وروسته کافران شي، هغوی فاسقان دي.*

**لیکوال: عبد السلام إسحاق**

**د حزب التحریر ـ ولایه سوډان مطبوعاتي دفتر غړی**

**د حزب التحریر د مرکزي مطبوعاتي دفتر د راډیو لپاره لیکل شوې**

**ژباړه: بهیر «ویاړ»**